د ازموینو عمومي - اداره - عمومی امتحانات

National Examination Authority

# کانـــــکور

## موخه او رسالت

د ازموینو عمومي اداره د افغانســـتان اسلامي امارت په چوکاټ کې د امارت د موخو او ارمانونو د پلي کېدو لپاره چې هدف يې د اســلامي او عمومي ارزښـــتونو په رڼا کې د دولتي ازموینو په برخه کې د ټولنيز عدالت تطبيق، د پراخه خدمتونو وړاندې کول، ازموینو پروسو کې د هر ډول فســاد له منځه وړل او ښه حکومت ولي ده، هڅه کوي او له نيکه مرغه په دې لاره کې يې د دولتي ازموينو سيستم د معياري کولو، نويو سېســتمونو د ايجاد، نخبه کادرونو د ټاکنې، ځوانانو ته د لازمو سهولتونو برابرولو، د تحصيلي کيفيت په لوړولو کې د مثبتو اغېزو او په دولتي او خصوصي تحصــيلي بنســټونو کې د محصــلانو د جذب په موخه، د قانوني چوکاټ په رامنځته کولو سره د پام وړ فعاليتونه ترسره کړي دي.

## کانکور

کانکور ازموينه يوه ستره عمومي او سرتاسري رقابتي پروســه ده، چې هر کال په هېواد کې د ازموينو عمومي اداري له لورې د دولسمو ټولګيو له فارغانو څخه اخيستل کيږي، په دغه ازموينه کې وړ او استعداد لرونکي ځوانان د هغوی له انتخابونو سره سم تحصــيلي بنســټونو ته د لوړو او مســلکي زده کړو په موخه ورپېژندل کيږي.

0748408421
کابل ـ شهرنو، کورنيو چارو پخوانی ودانی سړک، يفتلي کوڅه

## سپارښتني:

- د تحصیلي ځانګو په ټاکنه کې دقیق ووسئ، ځکه وروسته له بریالي کېدو څخه په هیڅ ډول تحصیلي ځانګې ته تغیر نه ورکول کیږي.
- هغه ګډونوال چې په لومړي ظرفیت کې تحصیلي ځانګو ته بریالي شي، په تحصیلي بنسټونو کې د خالي ظرفیت پاتې کېدو په شتون کې، په هیڅ ډول سره بلې تحصیلي رشتې ته نه وریپژندل کیږي، یوازې هغه ګډونوال دویم خالي ظرفیت ته نوم لیکنه کولی شي چې په لومړی پایله کې یې د کامیابی نومره پوره کړي وي او کومې تحصیلي ځانګې ته نه وي معرفي شوی.
- د دویم ظرفیت لپاره بیا ازموینه ورکول شرط نه دی او ګډونوال یوازې په آنلاین ډول د نوم لیکنې وروسته د لوړو نمرو له مخې ټاکل شویو خالي بستونو ته د ازموینو عمومي اداري له لوري وریپژندل کیږي .
- هغه ګډونوال چې په مربوطه ولایاتو کې د ازموینې له ورکولو پاتې کیږي، د کانکور په وروستی ازموینه کې چې په کابل کې اخیستل کیږي، د بیا ځلې حق الشمول (۴۰۰) افغانیو په تحویلولو سره په ازموینه کې تنظیمیږي.

## په کانکور ازموینه کې د ګډون کوونکي شرطونه:

- ګډون کوونکی باید له دولسم ټولګي څخه فارغ وي.
- ګډون کوونکی باید د ازموینې د نوم لیکنې فورم په خپل لاس ډک، د مربوطه لیسې او پوهنې ریاست له خوایې تائید او پر ټاکلي وخت یې بېرته تسلیم کړي.
- ګډون کوونکی باید په ازموینه کې د شمولیت چانس ولري؛ د دولسم ټولګي فارغ دري ځلې د امارتي تحصیلي بنسټونو د ورځې تحصیلي پروګرام په کانکور ازموینه کې د ګډون حق لري، د شپې او خصوصي تحصیلي مؤسسو ازموینه له دې امر څخه مستثنا ده.
- ګډون کوونکی باید د کومې امارتي تحصیلي مؤسسې برحال محصل یا فارغ نه وي. یو محصل هغه وخت ازموینه کې ګډون کولی شي، چې د لومړي سمستر ازموینې له پیل څخه تر مخه ځان منفک کړي، دغه منفکي باید د ناکامی او غیابت له مخې نه وي.
- ګډون کوونکی چې په کوم ولایت کې له لیسې څخه فارغ شوی وي، په همغه ولایت کې باید ازموینه ورکړي.
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو انسټیټیوټونو فارغان په ۷۵ سلنه اوسط نومرو سره د اختصاصي (څوارلسم پاسانو) کانکور ازموینې له لارې د بریالیتوب په صورت کې، په اړونده ځانګه کې په دریم ټولګي کې جذبیږي.
- د دارالعلومونو او طب انسټیټیوټونو فارغان د ۸۰ سلنه اوسط نومرو په نظر کې نیولو سره په اختصاصي ازموینه کې د بریالي کېدو په صورت کې په یو کال تنزیل سره په اړوندو ځانګو کې جذبیږي.
- د ښوونکو د روزنې مؤسسو څوارلسمو ټولګیو فارغان د نومرو سلنې په نظر کې نیولو پرته د ښوونې او روزنې په شپې او داخل خدمت پروګرامونو کې له بریالي کېدو وروسته په دریمو ټولګیو کې جذبیږي.

## د ازموينې پر مهال د ګډونکوونکي مکلفيتونه

- د بايومتريک معلوماتو د ثبت پروسه حتمي ده او ټول ګډونکوونکي بايد مخکې له ازموينې خپل د بايو متريک معلومات ثبت کړي.
- ګډون کوونکی مکلف دی، چې د ازموينې نظم او ډيسپلين ته پاملرنه وکړي.
- ګډون کوونکی بايد د ازموينو محل ته په خپل وخت حاضر شي، د ازموينې له پيل کېدو وروسته هېڅ کس ته د ازموينې صحنې ته د داخليدو اجازه نه ورکول کېږي.
- ګډون کوونکی بايد د ازموينې په ورځ د ازموينې شموليت کارت، اصلي تذکره او يا پاسپورټ له ځانه سره ولري.
- ګډون کوونکی مکلف دی، چې د ازموينې له پيل څخه وړاندې د پوښتنو کتابچې له صحت او بشپړتيا څخه ډاډ ترلاسه کړي.
- ګډون کوونکی مکلف دی، د ازموينې شموليت کارت ای ډي نمبر، د پوښتنو کتابچه او ځواب پاڼه له ای ډي نمبر سره چک او له ورته والي څخه يې ډاډ ترلاسه کړي، که چيرې يو نمبر هم سره توپير ولري، موضوع دې له ممتحن پلاوي سره شريکه کړي.
- ګډون کوونکی بايد د ازموينې په جريان کې د نقل کولو او ورکولو څخه جداً ډډه وکړي.
- ګډون کوونکی بايد د ځواب پاڼې پورتنی برخه کې د ګډونوال د لاسليک اړوند ځای کې په داسې ډول لاسليک وکړي، چې د ټاکل شوي ځای څخه بهر و نه وځي.
- ګډون کوونکی بايد په ځواب پاڼه کې دايرې په بشپړ او په داسې ډول تورې کړي، چې ځواب پاڼې ته زيان ونه رسيږي.
- ګډون کوونکی بايد د ازموينې په پای کې د خپلې خوښې ريشتې په پوره غور او دقيق ډول انتخاب کړي.
- ګډون کوونکی مکلف دی چې د ازموينې په پای کې د ازموينې اړوند ټول اسناد لکه: د پوښتنو کتابچه، ځواب پاڼه او د ازموينې د شموليت کارت ممتحن استاد ته وسپاري.

**د يادونې وړ ده، چې په امارتي تحصيلي بنسټونو کې د نارينه وو لپاره هېڅ ډول تبديلي شتون نه لري.**

## هغه کړنې چې د پايلو د قرنطين يا ګډونوالو د اخراج لامل کېږي:

- د ګډون کوونکي پر ځای د برحال محصل يا بل شخص ازموينه ورکول.
- د ازموينې په پای کې د ازموينې اسناد ( د پوښتنو کتابچه او ځواب پاڼه) ممتحن پلاوي ته نه سپارل.
- د ازموينې پرمهال او يا هم وروسته د پوښتنو افشاء کول.
- هغه ګډون کوونکی چې په ازموينه کې يې د ګډون چانس پوره شوی وي او د جعل او تزوير له لارې يې په ازموينه کې ګډون کړی وي.
- په يوه کال کې له يوځل څخه زيات په کانکور ازموينه کې ګډون کول.
- هغه ګډونکونکی چې د کومې امارتي او تحصيلي مؤسسې محصل او يا فارغ وي.
- د ازموينې پرمهال د مبايل يا بلې وسيلې په مرسته د پوښتنو کتابچې څخه انځورونه اخيستل او خپرول.
- د ازموينې محل ته د هر ډول اليکترونکي وسايلو لکه: مبايل، ګوشکي، بلوتوت، حساب ماشين، هوشمند ساعت، اليکترونيکي عينکې، فورمولر، لاس بند او نورو فلزي، جارحه او ناريه توکو راوړل او کارول.

# د ځواب پاڼو لوستلو دستګاه Optical Mark Reader (OMR)

د کانکور ازموینو د ګډونوالو له خوا د ازموینې په محل کې بشپړې شوې ځواب پاڼې Optical Mark Reader(OMR) یا د تورو دایرو لوستونکي ماشین په واسطه سکن او لوستل کیږي، دغه ماشین په ځواب پاڼه کې ټول په نښــــه شوي ځوابونه او د ګډونوالو انتخابونه له هارډ شکل څخه سافټ ته اړوي او ټوله ډېټا سرور ته چېرته چې د پوښـتنو اصـلي ځوابونه یا کیلي موجوده ده لېږدوي، چې هلته بیا د یوې ځانګړې کمپیوټري پروســې له لارې د ګډون کوونکي آی ډي نمبر ته د ســمو ځوابونو په بدل کې نومرې ورکول کیږي. یادې نومرې د سېستم له خوا د آی ډي له انتخابونو سره کتل کیږي او هر انتخاب ته د غوښتل شوي ظرفیت سره سم ګډونوال ورپېژندل کیږي.



د پایلو له علان وروسته په تحصـــــیلي څانګو کې د خالي ظرفیتونو د پاتې کېدو په صورت کې ټول خالي ظرفیتونه بیا ځلې اعلان ته سپارل کیږي او هغه داوطلبان ورته نوم لیکنه کولی شي، چې د کامیابۍ نومره یې ترلاسه کړې وي او په اعلان شویو پایلو کې کومې تحصیلي څانګې ته نه وي ورپېژندل شوي.

**د ازموینو ټول ګډونوال باید ډاډه اوسي، چې د ازموینو په پایلو کې کومه انساني لاسوهنه په هیڅ ډول امکان نلري او ټوله پروسه د ماشین په مرسته مخکې ځي.**

## د شهرت اصلاح پروسه

د ازموینو عمومي اداره د کانکور ازموینو د پیل څخه مخکې د ټولو ګډونوالو شــهرت د اصـلاح له فورمې ســره یو ځای د ازموینو عمومي ادارې د ویب پاڼې له لارې نشروي. هغه ګډونوال چې په سیستم کې د فورمونو د انټري پر مهال یې په شهرت کې اشتباه شوې وي، کولی شي د شهرت اصلاح فورم بشپړ او په آنلاین ډول یې یادې ادارې ته واستوي. د یادونې وړ ده چې د ازموینو عمومي ادارې تخنیکي برخې کارکوونکي د ازموینو تر پیل پورې د ټولو ګډونوالو فورمو ته لاسرســـی کوي او شـــهرت یې اصـــلاح کوي. هغه ګډونوال چې د ازموینو په فورمه کې د نوم لیکنې پر مهال تیروتنه کوي او فورمې یې وروسته په هماغه ډول سیســـــــتم کې ثبتیږي، په ازموینه کې له بریالي کېدو وروسته تحصیلي بنسټونو ته ورپېژندل کیږي، په دې صورت محصلان له اړوند تحصـیلي بنسـټ څخه د شهرت اصلاح مکتوب ترلاسه او د ازموینو عمومي ادارې داوطلبانو آرشیف آمریت ته مراجعه کوي، یاد آمریت د پوهنې وزارت او داوطلبانو د اسنادو د تصـــــدیق آمریت معلوماتو پر بنسټ د محصل شهرت اصلاح او اړوند تحصیلي بنسټ ته یې په مکتوبي ډول معلومات ورکوي.


یادونه: د کانکور ازموینو ټول بریالي ګډونوال د ازموینو عمومي ادارې له لورې په رسمي توګه تحصـیلي بنســټونو ته د ورپېژندنې وروسته، باید تر ۲۰ ورځو پورې د نوم لیکنې لپاره تحصیلي بنسټ ته مراجعه وکړي، پرته له هغې د تحصیلي بنسټ له لورې منفک کیږي.












# د کانکور عمومي ازموينې د پوښتنو د حل طريقه

د پوښتنو کتابچه د هر ګډون کوونکي لپاره جلا چاپيږي، چې د همغه ګډون کوونکي د ای ډي نمبر درلودونکې وي او له نورو سره توپير لري. په دغه کتابچه کې ۱۶۰ پوښتنې موجودې وي چې د پوهنې وزارت ښوونځيو تعليمي نصــاب لســم، يوولســـم او دولســـم ټولګيو مضــــامينو څخه راوړل کيږي. د پوښتنو کتابچې د ۱۶۰ پوښتنو پر وړاندې په ځواب پاڼه کې له ښي لوري څخه چپ لور ته ۱۶۰ رديفونه شتون لري، چې هر رديف د پوښتنو د څلورو ځوابونو سره سم د څلورو دايرو درلودونکی وي. ګډون کوونکی بايد دقيق ځواب په نښه او په ځواب پاڼه کې يې په دقيق ډول ورسوي. بايد وويل شي چې د هرې پوښتنې لپاره يوائې يو سم ځواب په نظر کې نيول شوی. که چېرې يو ګډون کوونکي ته د خپلې ټاکل شوې ژبې خلاف يعنې په بله (پښــتو يا دري) ژبه د پوښتنو کتابچه چاپ شوې وي، او نومورې له ژبې سره ستونزه ولري، موضوع دې د ازموينې پر مهال په صنف کې له موجوده ممتحن استاد سره شريکه کړي، په دې صورت کې ګډون کوونکي ته کتابچه بدليږي او پر بله کتابچه د نومورې آی ډي نمبر رســول کيږي. په ځواب پاڼه کې بايد د هرې پوښــــتنې د ځواب پر وړاندې يوه دايره توره شي، د يوې دايرې په تورولو، بېرته پاکولو او بلې دايرې په تورولو سره ماشين داوړه دايرې نه لولې او ځواب ته نومرې نه ورکول کيږي.

# د کوډ رشتې رسول

په کانکور ازموينه کې د تحصيلي ځانګې انتخاب او د کوډ رشتې رسول يوه مهمه برخه ده چې ګډونوال يې د ازموينې پر مهال د پوښتنو له حل کولو وروسته ترسره کوي. د کوډ رشتې جدول د ځواب پاڼې په پورتنۍ برخه کې له ښي لوري څخه کيڼ لوري ته ترتيب شوی او د پنځو انتخابونو لپاره ځای لري. هر ګډونوال د پنځو انتخابونو حق لري، ګډونوال بايد د خپلې خوښې تحصـــــــيلي ځانګو کوډونه د کوډ رشتو له جدول څخه په نښــه او د پوښتنو د ځوابولو څخه وروسته په دقيق ډول په اړوندو دايرو کې ورسوي. ګډونوال بايد انتخابونه د خپل توان او د پوښـتنو د حل سره متناسب ترسـره کړي، ځکه دقيق انتخاب په کانکور ازموينه کې د ګډون کوونکي راتلونکی ټاکي. ياده دې وي چې د کوډ رشـتو په رسولو کې تېروتنه په هيڅ صـورت د اصــلاح وړ نده. ګډونوال بايد د خپلو کوډونو په رسـولو کې دقيق اوسي، هغه ځانګې چې نوماندان يې زيات وي او د کاميابۍ نومره يې لوړه وي لکه (طب، انجنيري ...) کوډونه دې په لومړيو انتخابونو کې ورسوي، که چېرې په تېروتنې يا قصــدي توګه د ټيټې نومرې ځانګه په لومړي انتخاب کې ورسول شي، د سيســـتم له خوا ګډون کوونکی همغې ځانګې ته ورپېژندل کيږي او وروسته په هيڅ ډول بلې ځانګې ته نه تبديليږي. د نيمه لوړو زده کړو مؤسســـو فارغان بايد په اختصــــــاصي ازموينه کې د خپلو مخکينيو رشتو سره سم يو کوډ وټاکي، که چيرې يو ګډون کوونکی د خپلې رشتې خلاف ځانکه انتخابوي، د لوړو نومرو اخيستو او برياليتوب په صورت کې هم اړونده ځانګې ته نه ورپيژندل کيږي او بې پايلې پاتې کيـږي. د ديني مدارسو، خوارلســـــــم پاسانو، شپې پوهنځيو او ولايتي کانکور ازموينو کوډ رشتو جدولونه له عمومي کانکور کوډ رشـتو جلا دي او د هرې ازموينې ګډونوالو ته د ازموينـې ترمخه بيل ويشل کيږي.






t.me/NExA_gov_afg
ادارهٔ ملی امتحانات – ازما – ازموینو ملي اداره
Instagram/NExA_gov_af
ادارهٔ ملی امتحانات – NExA – ازموینو ملي اداره

# د ازموینو عمومي - ادارهٔ - عمومی امتحانات

# National Examination Authority




## د بایو متریک معلوماتو ثبت پروسه:

د بایو متریک معلوماتو ثبت پروسه په ډله ییزو ازموینو کې د بیروني اشخاصو د مخنیوي په موخه د ازموینې څخه وړاندې د ازموینو عمومي اداري تخنیکي کارکوونکو لخوا پر ټولو ګډونوالو تطبیق کیږي، د بایومتریک معلوماتو ثبت په پروسه کې د ګډون کوونکي د ګوتو نښې او انځور ثبتیږي.


د ازموینې په ورځ ټول ګډونوال د ازموینو په محلونو کې بیا ځلې د بایومتریک کارکوونکو لخوا چک کیږي او یواځې هغه چا ته په ازموینه کې د ګډون اجازه ورکول کیږي، چې مخکې یې د بایومتریک معلومات ثبت شوي وي.

## د ازموینې ټول ګډونوال باید د بایومتریک معلوماتو د ثبت پر مهال لاندې ټکي په نظر کې ونیسي:









- د تابعیت اصلي پېژندپاڼې یا پاسپورټ درلودل؛
- عینکې او پیک خولۍ نه درلودل؛
- د ګډون کوونکي څهره باید پټه نه وي؛
- د ګډون کوونکي ګوتې باید پاکې او ښویه وي؛


0748408421

کابل ـ شهرنو، کورنیو چارو پخوانی ودانی سرک، یفتلي کوچه